عبد الحکیم سامع ۲۰۱۲/۰۹/۲۷

# د حقیقت د لاری په مبارزه کی، هر وخت یواځی یی!

## د ګران ورور محمدآصف خواتي په ځواب!

ما دا لیکنه: «څوشیبې د ښاغلي عبدالحکیم سامع سره» ولوستله. تر هرڅه د مخه زه ډیر معذرت غواړم، چه دمقالی د سرلیک څخه: «موړ نو څوک یو؟» ، چه زه یی ځان ته را جذب کړی وم، په یو سرلیک، کی می د مفهوم څخه پدی ډول:« موړ به هغه څوک یو چه یو، پدی شرط چه ځان وپیژنو» کار واخیست. که دوی زما دی سرلیک ته، ښه په دقت سره ځیر شوی وای، نو په حقیقت کی به ورته معلومه سوی وای چه، د مقالي سرلیک ته یو لنډ او مشروط ځواب دی. خودی وربandی ندی پوهیدلی. دا پدی معنی، چه فقط هر یو ځان ته یو تعریف ورکولای سی. زموږ عوام خلک وایی «یو ځل سر په ګریوان کی کړه». ددی څخه سړی داسی پوهیږی، چه انسان دوه خصوصیتونه لری، یو یی «باطن» او بل یی «ظاهر» دی. که چیری، ستاسی د پوښتنی پر اساس، سړی د ټولو انفرادی باطن او ظاهر باندی، بیله «کم و کاست» څخه پوه سی، بیا به سړی وپوهیږی، چه د کومو قوانینو او قواعدو سره، ټولنیز یووالی او ټرون ښودل سوی، او ددی مځکی په کومه برخه کی ژوند کوی، او دهغی خاوری په ساتنه، پرمختیا او داسی نور مکلفیتونو کی خپله دنده تر سره کوی، نو به هغه وخت کی، تر یوه حده پوری، روښانه سی، چه «موړ» څوک یو او یا «دوی» څوک دی. دا ځکه چه ما ته، نه ښکاریده، چه لیکوال «موږ»، به، کوم کمیت په نظر کښی ولری او انتظار یی د «موږ» څخه، به څه شی وو. په بل عبارت نه وه معلومه ، چه دی «موږ» ته تر کومه حده پوری وسعت په نظر کښی ولری. آیا د وطن ټول اتباع یی په نظر کی نیولی وه او که نه. په هر ډول چه فکر کوی، زما خپل فکر هغه څه دی، چه یواځی زه وربandی څه ویلای سم، یعنی هر سړی خپله دی دی، بل څوک نسی کیدلای. په ټولنی کښی به هم، څنګه چه پورته هم یاده سوه، د غړیتوب په چوکات کښی، به هغه څوک وی، چه پخپله غړیتوب تر لاسه کوی او د مکلفیت او حقوق خاوند دی. زما هدف د یوی دولتی ساختارکی د غړیتوب مطلب دی.

ما فکر نه کاوه چه دا دوست به ورځینی منفي نتیجه واخلي. که دوی ددی مقالی په سرکی وګوری، دده د مقالی په باب، چه ممکن دی به ور څخه خپل مفهوم اخستی وی، د «غبرګون» معني نلری. په دری ژبه کي یوه اصطلاح ده، چه وایي «عاقلان را اشاره». اما اوس یې زه دی تفصیل ته اړ کړم. او زما هدف هم دا نه وه. ما د مقالی په پیل کی داسی لیکلی وه: « د محترم محمد آصف خواتی د لیکنی عنوان چه می ولوست: «موږ نو څوک یو؟»، زه یی هم دی ته و هڅولم، چه څو کرښی ولیکم. البته زه ددوی ددی متن په باب مشخص څه نه وایم. دا د دوی نظر او حق دی او زه بیله دی څخه چه د دوی پر لیکنو باندی ولیکم، فقط د سرلیک د کرښی د کلماتو تر مفهوم لاندی څه ویل غواړم.».

ګرانه وروره۱
هیر نکړی چه ما ستاسی د سرلیک څخه، چه لمړنی «مخترع» یاست ناوړه استفاده نده کړی. فقط دلته می چه ستاسی نوم ذکر کړی، ددی د پاره وه، چه ستاسی عنوان ماته دا مفکوره راکړی وه. اما زما له خوا څخه کومه بی احترامی نه ده سوی او هم می ستاسو د مقالي په باب، یادونی ندی کړی. د تجربی له مخی که چیری چاته زما مقاله د پاملرنی وړ ګرځیدلی وی، او که ستاسی مقاله نه وی لوستلی، نو ډیر به امکان ولری چه ستاسی مقاله هم ولولی، دا به ستاسی په ګټه وی. دلته زما «میتودیک» اشتباه به دا وه، چه ولی ما ددی کلماتو څخه کار اخستی. په دنیا کښی ځینی کلمات او نومونه وجود لری چه تر قانونی «ساتنی» لاندی دی. خو له بده مرغه پدی نه پوهیدم، چه تر هرڅه د مخه ستاسو څخه پوښتنه وکړم، چه آیا تاسی هم خپلی کلمی تر داسی «ساتنی» لاندی «بیمه» کړی وه او که نه؟. زه که چیری خپله د «موږ» د اصطلاح څخه کار واخلم، نو د دولت د ټولو وګړو څخه می هدف دی، چه د «موډرن» مفهوم پر بنسټ، د ملت غړی هم بولم. ددی جملی څخه وروسته یو عمومی انځورمی هم په سترګو لیدلی، چه کوم مشخص سړی می هدف نه وو، بلکه دا چه زموږ ټولنه د پسمانی سره مخامخ دی، او د بحران په اور کښی سوځی، دا زما، تصور دی، که چیری تاسی ددی جملی سره مخالفت ولری، ستاسی موضعګیری ده، زه ورته احترام لرم، خپل نظر ته به هغه وخت تغییر ورکوم، کوم چه په خپله، حقایق ووینم او یا په مسایلو باندی پوه سم. تاسی زما د مقالی څخه یو څو کرښی نقل کړی، اما دقیق مو ندی لیکلی، نه پوهیږم چه دا کارمو قصدی وه او که د نا پوهی له کبله:هغه برخه داسی وه: « موړ د تاریخی «پسمانی» په «کنده» کښی پراته یو، او پر احساساتو باندی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ولاړ او د غضب او « قهر» ښخه ډک، ددی پرځای چه پر موضوع باندی، صمیمانه بحث وکړو او خپلی زدکړی سره بدل کړو، تر څو چه دکومی ستونزی د حل لاره پیدا کړو، نو د شهرت طلبی او فردی «دښمنی» تر سیوری لاندی لګیا یو، تر څو چه د مقابلی میدان وګټو.

تر دیرش کاله زیات بحران کښی موږ د لیکوالانو، شاعرانو، سیاستوالو او جنګیانو په لیکنو کښی د «انقلاب»، «حادثه»، «مصالحه»، «جهاد»، «آزادی»، «حل وعقد»، «امربالمعروف و نحی عن المنکر» او په زر هاو نور مفاهیم، واوریدل. د تاریخ د پاڼو ښخه مو غلط انتباهګانی خپری کړی. زمونږ تاریخی او ملی هویت د خطر سره مخامخ سو، لیکن زمونږ لیکوالان ددی پر ځای، چه د ملی سیاست تعریف د نړی د اوسنی شرایطو په چوکات کښی وړاندی کړی، دا چی پوهیږی که نه پوهیږی، ګروپی یا ذهنی مطالب وړاندی کوی. ملی یووالی په خوله راوړو، مګر قومی سیاست پر مخ بیایو. د یوی اوا ښخه ملی هویت «مقدس» بولو، مګر له بلی خوا بیا ددی پر ځای، چه ټولو افغانانو، ته په یوه سترګه وګورو، په ملت کښی د «سپیڅلو پښتنو » په «نقل قول» پسی ګرځو. د دی پر ځای چه موضوع ته پاملرنه وکړو، خو ویونکی ته سترګی نیسو.»

زه ګرانو لوستونکو ته ستاسی نقل چه زما د مقالی ښخه مو کړی پدی ډول نقل کوم: « موږ د پسمانی په «کنده» کی پراته یو، پر احساساتو ولاړیو، د قهرا و غضب ښخه ډک، د شهرت طلبی او فردی «دښمنی» تر سیوری لاندی لګیا یو، ګروپی یا ذهنی مطالب وړاندی کو، قومی سیاست پر مخ بیایو، په ملت کی د «سپیڅلو پښتنو» په «نقل قول پسی ګرځو او داسی نور نیوکی کتار کړی دي. »

ګرانو لوستنکو!
ما هغه جملی چه زما په مقاله کښی موجود دی، او محترم خواتی، زما د لیکنی ښخه په خپله خوښه د جملو ښخه، هغی برخی ټاکلی، چه ما تر هری توتی لاندی خط کش کړی. ددوی په نقل کښی چه ځانګړی رنګ ورکړسوی، د یوه «پراګراف» په ډول کار اخستل سوی، لکه څنګه چه وینی، وروسته د «پسی ګرځو» ښخه باید د «ګیمی قوس» یی بند کړی وای، خو دی، دی ته اهمیت ندی ورکړی او ددی قوس پاته برخه دده ده.
تاسی خپله قضاوت کولای شی، چه دده د انتخابی جملو په مینځ کښی، چه ما پورته په سره رنګ نښانی کړی، ندی نیولی، اوپه مینځ کی یی هم معمولی نقطی، لکه څنګه چه، د محققینو او «اکادیمیک» اشخاصو تر مینځ پدی ډول(...) معمول دی، ندی مراعات کړی. زه اوس په ډیر سخت موقف کی ولاړ یم، سره ددی، چه زه د «انتقاد» ښخه خوشحاله کیږم، خو که چیری انتقاد د اصولو سره مطرح سوی نوی، تجربه نلرم، چه څنګه ځواب ورکړم.

لوستونکی ګوندی، د تلویزیونو په راپورونو کښی، لیدلی وی، چه کله کله، «باندونه» او یا «غله» په یوه کور ننوځی، څرنګه چه د کور سره به نا بلد دی، نو په ډیره بیړه هر شی چه یی نوی پکار، چیری غورځوی، او خپل د هدف شیان وړی. محترم خواتی هم، زما د مقالی ښخه همدا ډول، مطالب را جمع کړی وه، چه زه یوه ورځ په خپله مقاله کی پسی ګرځیدلم. ما په نیک نیت لیکلی وه، خو داسی معلومیږی، چه را ته، په بده سترګه کتل کیږی. زه ځه نسم ویلای، دا ددوی هنر دی.

محترم خواتی!
د تاریخی د کلمی لیری کول، ددی جملی معنی ته داسی بدلون ورکوی، چه زماغوښتنه نده. دبلی خوا ښخه، یو څه انصاف وکړی، زما د مقالی «پراګرافونه» مو په خپله خوښه توتی توتی کړی، چه مفهوم ته تغییر ورکوی، بیا زما نوری غوښتنی نه یادوی. غواړی زما سره په بحث کښی داخل سی، او ورپسی نور«مهرونه» هم را باندی حواله کوی.

ګرانه وروره، په نوره نړی کی یوه مقوله ده، چه وایی «راته ووایه چه چیری ولاړ یی، زه به بیا درته وایم چه څوک یی.» تاسی په خپل دا کار باندی مو ځان افشا کړ، چه څه فکر کوی، او خپل «سیاسی» هدف په څه ډول په مخ بیایی.
د مقالی په متن کښی، د یوی تاریخی سند ښخه، چه بل چا ترجمه کړی وه، نقل سوی، که ددی متن سره موافق نه یاست، هم زه څه ویل نه غواړم، دا تاریخی ارزونی زما ندی، کله چه می ولوستل ما ته د لوستلو وړ وو. او د تاریخی متن په پای کښی می داسی ذکر کړی وه: «ګرانو لوستونکو، د ګیمی قوس په مینځ کښی لیکل سوی متن، زما نظر ندی، بلکه د یوی خارجی محقق د «ژباړی» ښخه نیول سوی. مونږ باید، عادت وکړوچه لمړی «فکتونه» و لولو او په ډیره سره سینه د تاریخی واقعوښخه زده کړو. »

ګرانه وروره!
تاسی، په خپل دی لیکنی کی زما د نورو مقالو په باب هم خپله «سلیقه» بیان کړی. که چیری زما په لیکونو کی، کوم ځای کی، د ځینی لیکوالانو، پر ځای سهواً «لیکوالان» ذکر سوی وی، نو به ترپیوی اندازی پوری به اشتباه


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

وی. مګر که سړی ټول متن ته په غور سره وګوری، بیاهم دا نتیجه اخستلای سی، چه هدف می هغه لیکنی دی، چه زما له نظره  انحرافی مفاهیم پکښی موجود وی.

یو شی چه ما ته سؤال را پیښ کړی، دا دی چه ما د «  طالب چه بود، چه شد وچه خواهدشد؟»، سرلیک لاندی، د مختلفو منابعو څخه، چه می د کلونو په اږدو کښی، د هغو منابعو څخه چه به می تصادفاً لیدل، او بی قیمته را ته په لاس راتلل، ټول کړی وه، او فقط تر ۲۰۰۱م  کال پوری، چه همدی کال کښی د «طالبانو د جنبش» حکومت سقوط کړی، د وقایعو سلسله، د «کرونولوژیک» په شان یادداشت کړی، بیله دی څخه چه زه خپله ورباندی، تحلیلونه ولیکم او دهغه د پاره وخت ولرم، هر څه می مستند لیکلی. ستاسو د پوښتنی څخه داسی ښکاری، چه دقیق مو ندی لوستلی. او وروسته تر هغی می د «چه خواهد شد؟» په برخه کښی د دلایلو په ویلو سره ختمه کړی، یعنی ټول حوادث چه ما د منابعو څخه لیکلی، تر ۲۰۰۱م پوری دی. دا کومه تاریخی ارزونه نده، دا د ډیرو نمونوی پیښو یادونه ده، چه د اسنادو پر بنسټ لیکل او ټول سوی دی. نه پوهیږم چه تاسی ولی ورباندی نا آرام سوی است. راتلونکی نسل کښی که د تاریخ پوهان وغواړی،  ممکن ددی «فکټونو»څخه کار واخستلای سی. د تاریخی پیښو خالی ځایونه هر وخت ډکیدای سی. دا چه ستاسی خوښ ندی، زه در ته په ننواتی نه درځم، چه صفت یی وکړی. ما د شهرت او صفت د پاره ندی لیکلی، ما کوم وخت یو ډیر ګران، پوه او لیکوال وطنوال ته ویلی وه، چه ما داسی مطالب ټول کړی. ده را څخه خواهش وکړ، چه د افغانستان په یوه ژبه یی مجموعه ولیکم، په مقدمه کی می د پخوانی «معصوم طالب» په باب لیکلی، او وریسی، نوری، حادثی پکښی بیان کړی. ما د «طالب» څخه د یوه «کلی او یا د کلیو» د اوسیدونکی  په توګه، د پخوانی معصومانه ژوند په باب لیکلی او بیا چه څنګه قدرت ته راغلی، ځینی حالات می بیان کړی.  زه د «فکټ» څخه کار اخلم. ماته دا تفاوت نلری، چه یو «فکټ» د چا له خوا لیکل سوی. خارجی وی که داخلی، سپین وی که تور، ژیړ  وی که بور، مسلمان وی که هندو، عیسوی وی که یهود، بودائی وی او که نور. ما که افغانی تاریخ پوهان نه وی لوستلی، دا زما اختیار دی، ځکه زه تاریخ پوه نه یم، زه ځینی مسایل تحلیلوم، او پدی نه یم ویشتلی، چه تاسی یی منی او که نه منی. د هغو  «تارخ پوهانو» په باب می هم څه ندی ویلی. ستاسی وروستی توضیحات، یو انسان ته چه انسان ورته ډیر درووند قیمت ولری، خوا ګرځنه  به ورته تحریک کړی. زه نه پوهیږم، چه تاسی په څه دلیل، ماته شرطونه وضع کوی. ما به ستاسی سره ډیر بحث کړی وای، خو متآسفانه ما ته مو، ځان په خپل قضاوت کی، ډیر بی انصافه، ښکاره کړی یاست. داسی  حدس وهل کیږی، چه تاسی پر  هره موضوع باندي خپله «مخکنی قضاوت» لری.

تاسی په یوه ځای کښی یوه ډیره عجیبه ادعا کړی او یو ډول غواړی، چه زما نوم او نظر ته صدمه و رسوی. داسی حملی په ما ډیری سوی: زه لوستونکو ته ستاسو د مشابه ادعا ګانو، یوه ادعا را نقل کوم: « البته زه یوازینی څوک نه یم چي ددی واکمنی  دمنفي اړخونو په اړه خپل نظروړاندي کوم بلکې ډیری افغانان اود افغان جرمن آنلاین غوښ اکثریت لیکوالان  زما په شان  فکرکوي اویوازې ښاغلی سامع اوښاغلی نعیم بارزدهیوادمنني مشرتابه په دفاع کې ولاړدي٠ ښاغلي سامع ددولت دمشرکرزي په اړه لیکي « ٠٠٠  از حرمت وکرامت انساني ایشان بنابرشناختیکه ازین خانواده منور و معروف کشورما افغانستان دارم دفاع میکنم وخواهم کرد٠»

د اچه  تاسی څه غټه ډله لری او هری خوا ته «چټلی اوبه» پاشلای سی، ما د هغی د حفاظت د پاره،  د کومی «بیمی» قرارداد ندی تړلی، چه پر تاسی باندی، د «ناحقه اتهام»  او تهمتونو په باب، «حقوقی» دعوا وکړای سم. دا ځکه چه په متمدنه دنیا کی، په چا باندی تور لګول کیږی، جرمی عمل بلل کیږی. د بلی خوا څخه دا یوه «مجازی» کوټه ده. ما د زدکړی په کلونو کښی د عالمانو نصحیت اوریدل، چه ویل یی: « د حقیقت د لاری په مبارزه کی، هر وخت یواځی  یی!»
دلته مو بیا لکه د پورتنی کار په شان، د خپل نا وړی ادعا د ثبوت دپاره، ناقص «نقل» اخستی. تاسی ممکن د «نقل قول» د نیولو سره به عادت نلری. زه پوهیږم، چه د افغان جرمن آنلاین» د « دیدګاه ها» مطالب مو لوستلی، دلته مو هم هغه څه انتخاب کړی، چه تاسی وربا ندی «لغتی» وهلای سی. زما په اظهاراتو کښی ، چه د یو چا سره پر یوه موضوع باندی لیکل سوی وه، داسی راغلی وه: «کاش شما حاضر میبودید، که با واقعیت های عینی استدلال میکردید. من از مقام ریاست جمهوری محترم حامد کرزی دفاع نمیکنم. ولی از حرمت و کرامت انسانی ایشان، بنابر شناختیکه ازین خانوادۀ منور و معروف کشورما افغانستان دارم، دفاع میکنم و خواهم کرد. شما که خانم ایشان را باخانم «جورج دبلیو بوش» ندیده اید، نقیصۀ شماست. یک اندازه متوجه باشید، خانم ایشان دارای تحصیلات عالی بوده، داکتر طب استند، فرزند یکی از منورترین فامیل معارف پرور و باعزت قندهار است.»

دلته ستاسی د ډلی د یوی سړی په ادعا کی، د «میرمنی» یادونه سوی وه، چه ګواکی، چا یی مخ ندی لیدلی . ما دشرایطو په نظر کښی نیولو سره، دا  د یو غیر مناسب ټیکی په توګه و پیژندله.  او داسی انتباه اخستل کیدای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سوای، چه ګوا کی، دده «میرمن» به سواد ونلری. زه بیا هم وایم چه دده د میرمنی کورنی د ۵۰ کالو را پدی خوا پیژنم. دا لکه څنګه چه پورته هم یاده سوی، په سختو شرایطو کښی عالی تحصیلات لری.

محترم خواتی!
زه ډیر افسوس خورم، چه ستاسو سره مخ سوم. تاسی زما نوم د محترم محمد نعیم بارز سره، په یوه صف کی لیکلی. زه پدی هم حدس وهلای سم، چه د چا لیکنی او احتمالی پیژندګلوی به ستاسو پرنظریو باندی، اثر اچولی وی. که څه هم محترم بارز خپله دا توان لری، چه خپل نظر وړاندی کړی، او زه نه غواړم د دوی د حق په ساحه کی مداخله وکړم. ما د دوی لیکنی لوستی، او ددوی د تحلیل او ارزونی څخه می زده کړی. افتخار کوم چه زموږ په وطنوالو کښی، داسی استعدادونه وجود لری، چه په هره پدیده کښی «مثبت» او «منفی» اړخونه لیدلای سی. تاسی او ستاسی ډلی، په ډیر «مهارت» سره هڅی کوی چه زما څخه د کوم شخصیت په ضد کار واخلی. خو پدی مکتب کښی به مو دومره مهارت،لانوی لاسهکړی. تاسی ممکن د یوه انسان د کرامت، په مفهوم ښه نه یاست پوهیدلی. «شغل او مهارت او یا مقام» د یوه انسان او د هغه کړنی، او «خپله» دانسان کرامت سره توپیر لری. زه به د هرانسان کرامت ته په درنه سترګه وګورم. ستاسی دکرامت په احترام کی به، د رئیس جمهور او یا د بل انسان تر مینځ توپیر و نکړم. زه پدی سختو شرایطو کښی او ستاسی د «کڅیفو اوبو» د پاشلو په باب چه ممکن وغواړی، مخ می را «چټل» کړی، فقط بیله «حوصلی» پرته، چاره نلرم او د بین المللی یو متل باندی، چه معنی یی ده: «سپی غاپی، کډی تیریږی» او یا«سپی غاپی، کاروان تیریږی.»، خپل دا ترخه شیبه ستاسو سره ختموم

پای


افغان جرمن آنلاین په دربښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ